Secure Livelihoods Research Consortium

ښېړنپاڼه ۱
اپریل ۲۰۱۸



# په نازکو حالاتو کې اقتصادي پرمختیا له افغانستان څخه زده شوي سبقونه: څېړنه او پرمختیا

د خوندی معیشت د څېړنی د کنسرسیوم یا ایس ایل آر سي ښېړنپاڼه په جنگ ځپلو حالاتو کې په معیشت پورې اړوند مسأَلو، لومړنیو خدمتونو او ټولنیزې ساتنې په اړه معلومات، شننې او سپارښتنې وړاندې کوي. دغه پاڼه او نوري کاري او خبري پاڼې د ایس ایل آر سي له کورپاڼې څخه تر لاسه کولای شي.
دغه اداره د انگلستان د حکومت او د ایرلینډ د مرستو له لارې تر سره کیږي.

په دې پاڼه کې خپرې شوې نظریې د لیکوالانو خپلې انگېرنې دي او په حتمي ډول د انگلستان د حکومت رسمي پالیسي یا د ایرلینډ د مرستو د ادارې د ای سي، ایس ایل آر سي یا همکارانو نظرونونه (اندونه) نه منعکسوي.


د معیشت د خوندیتوب د څېړنې کنسرسیوم
د باندني پرمختګ موسسه (او ډی ای)
بلیک فیرز روډ ۲۰۳، لندن NJ ۸ SEI، انگلستان

تلیفون +۴۴- ۲۰۳۸۱۷۰۰۳۱
فکس +۴۴- ۲۰۷۹۲۲۰۳۹۹
برېښنا لیک، slrc@odi.org.uk
www.securelivelihoods.org


odi
تحقیق برای افغانستان بهتر AREU
UKaid from the British people

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

# په نازکو حالاتو کې اقتصادي پرمختیا
# له افغانستان څخه زده شوي سبقونه:
# څېړنه او پرمختیا

جولیا مینویا و اورس شرید

زمری ۱۳۹۷

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د نظریاتو منعکس کونکې ندی.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۴۱-۱۰-۵

بڼه ورکونکې: بیتریس بارکو

ژباړه: نظام الدین کتوازی

د AREU د خپرونې (کود ) علامه: ۱۸۰۵P

©۱۳۹۷ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه یوازې د غیر سوداګریزو موخو لپاره کېدای شي نقل ،وینا ، ذکر یا بیا چاپ شي، په دې شرط چې لیکوال او منبع یې خبر شي. په دې خپرونه کې ځای شوي نظرونه لیکوال پورې اړه لري او په حتمي ډول د AREU یا د اروپایي ټولنې نظرونه نه منعکس کوي. ځینې حقونه خوندي دي.

که چېرې دغه خپرونه په برېښنایي ډول چاپ شوې، ذخیره شوې یا لېږدول شوې وي، برېښنایي پته یې باید د AREU ویب پاڼې ته ولېږل شي. (www.areu.org.af). له دغو اجازه لیکونو څخه بهر له دې خپرونې څخه ګټه اخیستل د AREU او د همکارو خپروونکو مخکینۍ لیکلې اجازې ته اړتیا لري. د AREU د برېښنا لیک د پتې له لیاري، areu@areu.org.af یا تیلیفون شمېرې ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۵ له لیاری اجازه لیک تر لاسه کېدای شي.

# د لیکوال په اړه

دغه څېړنه د جولیا مینویا او اورز شرید له خوا لیکل شوې. جولیا په توکم پېژندنه او ټولنیزو څېړنو کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې لپاره کار کوي. اورز د د نړیوالو همکاریو لپاره د آلمان د ادارې له اقتصادي پالیسي او د شخصي سکټور د پرمختګ له څانګې سره کار کوي.
دغه څېړنه د لیکوالو شخصي نظریات منعکسوي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنې يو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پاليسۍ پورې اړوند څېړنې برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پايلو نشرول او همداسې د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسيلوانيا د پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د يوو څېړنيز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکې دی او په منځنۍ آسيا کې د څېړنيزو بنسټونو په منځ کې په پنځم کچه کې ځای لري. په همدې ډول، دغه اداره په برېتانيا کې د پروسپيکټ (Prospect Magazine) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نيزې ادارې جايزه ګټونکې شوه. د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پاليسيو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداری لهڅېړنو او کتابتونه کار واخلي او دڅېړنې په برخه کې خپله وړتيا لوړه کړي او د نظرياتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندويه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځينې نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازي په کې شامل دي، اداره کيږي.

**تمويلونکی:**

د دې ادارې تمويلونکی د سويډن نړيواله انکشافي اداره (SIDA) او لاندې نور نړيواله بنسټونه دي:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development

and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK) and the Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC).

همدا راز دا اداره د لاندې نړيوالو بنسټونو غړيتوب هم لري:

Resolve Network, Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges Research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of the EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tank Network (ATTN) and The Central Asian Think Tank Network (CTTN).

# سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ویاړ لري چې د خوندي معیشت په لړۍ کې د اقتصادي پراختیا مقاله خپلو لوستونکو ته وړاندې کړي دغه څېړنه په افغانستان کې نازک اقتصادي وضعیت تحلیل او څرګندوي چې شته کمزوری رسمي ادارې د دې لامل شوی چې په افغانستان کې د اقتصاد ډېری قراردادونه په ټولیزه توګه تر سره شي. دغه څېړنه سپارښتنه کوي چې د اقتصادي خپرونو طرحه کوونکې باید د ټولو ونډه لرونکو ښکېلتیا په پام کې نیولو سره او د ګډو حل لارو پر بنسټ (ټولیز-اقتصادي ) لید په لاس کې ولري.

دغه څېړنه د جولیا مینویا یوه ایتنوګرافره، او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ټولنیزو موضوعاتو څېړونکو په همکارۍ ، اورس شرید چې د المان د پراختیایي مرستو ادارې په سکتوري، خصوصی او اقتصادي برخه کی کار کوي، UK Aid چې د انګلستان هیواد پوری اړه لري، سخاوت مندانه مالی مرستو او همدارنګه د ایرلینډ کومکی اداره یا Irish Aid او اروپایی ټولنې په واسطه د خوندي معیشت کنسرسیوم له لاری برابره شوې ده.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د یو مخکښ څېړنیز علمی مرکز په توګه ویاړ لري چې د شواهدو پر بنسټ څېړنې تر سره کوي او د پراختیایي اقتصاد د خبرو او بحث لپاره زمینه جوړوي.

هیله لرم چې دا څېړنه د مالی مرسته کوونکو ادارو د پام وړ او همدارنګه د دولتی همکارانو په اقتصادي برخه کې قرار ونیسي او وکولای شي چې مثبت بدلونونه د اقتصادي پراختیایي اصلاحاتو په لیکه کې په ټولنه کې راولي.

په درنښت



ډاکټر اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې رئیسه

"عملي کارکوونکي ډېر ځله له څېړونکو دا تمه لري، چې د پرمختیایي پروژو لپاره مناسبې حل لارې وړاندې کړي. سره د دې، وړاندیز شوې حل لارې، چې له څېړنو څخه لاس ته راځي، د ریښتیني نړۍ د محدودیتونو له امله مسترده شوې ځکه چې عملي بڼه نه لري. "



## څېړنې ته عمومي کتنه

په دې لیکنه کې موږ[1] څو کلیدي وړاندیزونه برابر کړي، چې نړیوال مرستندویان یې باید په پام کې وساتي کله، چې د یوې دوامداره شخړې په شرایطو کې د اقتصادي پرمختګ پروژې پلې کوي. زموږ موندنې د افغانستان له شرایطو څخه سرچینه اخلي.

په افغانستان کې د اقتصادي ژوند او مارکیټونو په اړه پر پینځو هر اړخیزو علمي څېړنو باندې په اتکا سره[2]، موږ کولای شو هغه زده شوي سبقونه په لنډه بڼه بیان کړو کوم چې له پینځلسو کلونو څخه د زیاتې مودې د نړیوالې مداخلې د پایلو له مشاهدې څخه راوتلي دي. په دې بنسټ، موږ سپارښتنه کوو چې پرمختیایي ادارې باید په یوه هېواد کې څنګه په مختلف ډول کار وکړي. له افغانستان څخه زده شوي سبقونه او د دغو سبقونو پر بنسټ د پالیسي سپارښتنې دغه راز، په دې اړه زموږ د عمومي وړاندیزونو لپاره یو بنسټ برابروي، چې نړیواله ټولنه کله چې په کمزورو هېوادونو کې د اقتصادي پرمختګ پروژې پلې کوي باید څه شی په پام کې ونیسي.

په دې مباحثې کې یو دویم وروسته هغه ستونزه جوړوي، چې د پوهانو او د پرمختیایي پروژو د کارمندانو تر منځ د پرمختیایي پروګرام له طرحې ور ها خوا د همکارۍ په اړه شتون لري. موږ وینو چې عملي کارکوونکي ډېر ځله له څېړونکو څخه دا تمه لري چې د پرمختیایي پروژو لپاره مناسبې حل لارې وړاندی کړي. سره د دې، وړاندیز شوې حل لارې چې له څېړنو څخه لاس ته راځي، مسترده شوې ځکه چې د ریښتینې نړۍ د محدودیتونو له امله عملي بڼه نه لري.[3] برعکس، څېړنیزې ادارې د پرمختیایي پروګرامونو د طرحې او پلې کولو په اړه شک او تردید څرګندوي. دغه حالت په خاص ډول د کمزورو هېوادونو په اړه صدق کوي، چېرې، چې انتقاد کوونکي ګمان کوي ادارې او کارمندان له ټولنیزو، اقتصادي جوړښتونو څخه اطلاع او د خپلو کارونو د اجرا لپاره پوره انګېزې نه لري.

د دې څېړنې د لیکونکو په څېر، موږ په علمي او عملي کارونو کې له تجربو سره د دواړو خواوو انتقادي ټکي منو او هڅه کوو دواړه پامونه یو بل ته نږدې کړو. موږ ځانګړې تخنیکي حل لارې نه برابروو (دا د مرسته کونکو مسؤلیت دی) او د دې پر ځای د سپارښتنو په یوه عمومي کچه کې پاتې کېږو (دا هغه څه دي، چې بسپنه ورکونکی یې د خپل بریالیتوب لپاره باید په پام کې ونیسي). لکه د نورو څېړنو په څېر، موږ په یو ډول هغه سپارښتنې وړاندې کوو کوم چې له علمي څېړنو څخه راټوکیږي او "د ریښتینې نړۍ محدودیتونه " څرګندوي، چې ډونران (مرسته کوونکي) د پرمختیایي پروګرامونو د پلی کولو په وخت کې ورسره مخامخ کېږي (موږ ګورو، چې آیا زموږ وړاندیزونه قانوني، سیاسي یا جوړښتیز محدودیتونو ته په کتو سره د پلی کولو وړ دي او که څنګه). د دغې کړنلارې په ذریعه موږ د پوهانو او عملي کارمندانو ترمنځ په لومړي پړاو کې یوه ازادبحث پرانیزو. دغه بحث له موږ سره ډېره مرسته کوي، چې د دواړو خواوو اړتیاوې او محدودیتونه په ښه ډول درک کړو، تر څو داسې تخنیکي حل لارې پیدا کړو، چې وکولای شي داسې اغېزناک پرمختیایي پروګرامونه تیار کړي، چې د شواهدو پر بنسټ له څېړنو څخه لاس ته راغلې موندنې په پام کې وساتي. د دې

١ کلمه د دوو لیکوالو نظریاتو ته راجع کېږي: جولیا مینویا او اورز شرید په دې لیکنه کې د " موږ "

٢ د قضیو څېړنه د شپږ کلني پروګرام لاندې تر سره شوې، چې څو هیوادونه رانغاړي.

٣ د ریښتینې نړۍ محدودیتونه د ارادې نشتوالی احتوا کوي، خو دغه راز نورې ننګونې هم رانغاړي، چې د پلی کولو په مرحله کې را برسېره کېږي په کمزورو هیوادونو کې لوژیستیکي ستونزې یا قانوني مسالې لکه تدارکات.

بحث د تیارولو لپاره، موږ دغه لیکنه په دې پیل کوو، چې د څېړونکو او عملي کارمندانو ونډو ته یو لنډ پام واچوو او څرګنده کړو چې څنګه دواړه خواوې کولای شي په متقابل ډول له یو بل سره مرسته وکړي.

## د لومړي سر مرستی او په بریالیبو پرمختیایي پروګرامونو کې د څېړونکو او عملي کارکونکو ونډه

پالیسي جوړوونکي او د پرمختیایي پروژو جوړوونکي په منظم ډول څرګندوي، چې څېړنې باید د پرمختیایي پروګرامونو په جوړولو کې ډیره مهمه ونډه ولوبوي. خو موږ څنګه کولای شو، چې له څېړنو څخه لاس ته راغلي موندنې په داسې اطلاعاتو باندې واړوو، چې د عملي کارمندانو لپاره ګټور وي؟ موږ فکر کوو، چې د دې پوښتنې ځواب د پرمختیایي پروګرامونو په جوړولو کې د پوهانو او عملي کارمندانو د ونډې په درک کولو کې پروت دی.

څېړونکو ډېر ځله له دې امله تر نیوکو لاندې نیول کېږي چې عملي کارکوونکو ته هغه څه نه ورکوي چې دوي ورته اړتیا لري: روښانه او ځانګړې مشورې چې دوی باید څه وکړي او څرنګه یې ترسره کړي. داسې معلومیږي، چې خبره دا وي، چې څېړنه باید یو پروګرام په ټوله پیچلتیا سره په لنډ ډول معرفي کړي (Mallet او نور ۲۰۱۷). البته دا خبره ډېره مناسبه نه ده. که څه هم، څېړنه باید ښه مستنده وي او د چاپېریال جزئیات برابر کړي په خاص ډول په هغو ځایونو کې چیرې چې جګړې رواني وي خو د هغې بنسټیزه ونډه دا نه ده چې د پرمختیایي پروګرامونو لپاره وسایل برابر کړي، بلکې ونډه یې دا ده چې ټولنیز میکانیزمونه او قواعد مشخص کړي. اوس نو دا د پروګرام د جوړونکو کار دی چې دغه موندنې د بدلون په اړوندو تیوریګانو او د هغو له مخې په پرمختیایي پروګرامونو کې عملي کړي.

د پرمختیایي پروګرامونو جوړول په حقیقت کې یوازې په تخنیکي ملاحظاتو پورې نه ده تړلې. که څه هم تخنیکي ملاحظات د یوې پرمختیایي پروژې تیوریکي کړنلارې په ښه ډول بیانوي څو نور لاملونه هم شته چې د پروګرام په ټاکلو کې ونډه لري. په دې شرایطو کې دغه لاملونه شامیلیږي: سیاسي موخې، لکه له پرمختیایي پروګرامونو څخه خاصو سیاسي زورواکو ته د لاسرسي په موخه د بالقوه وسیلې په څېر کار اخیستل ؛ قانوني مسؤولیتونه ( ستونزې چې د غیر دولتي فعالینو سره د دوه اړخیزې همکارۍ په ترڅ کې ورسره مخامخ کېدای شو ) ؛ او د پلې کولو په چاره کې ننګونې، لکه د داسې ماهرانو پیدا کول چې په لېرې پرتو سیمو کې د کار کولو اراده ولري. د غیر تخنیکي لاملونو په اړه نظریات چې د پرمختیایي پروګرامونو په چمتو کولو کې ونډه لري، په معمول ډول په پرمختیایي موسساتو کې د علمي کارکوونکو کار دی. څرنګه چې دغه نظریات ډېره پراخه ساحه رانغاړي، پېچلې او کله حساس خصلت لري، له دې امله "له ساحې څخه وتلی فعالین "د دغو محدودیتونو په پوهېدو کې له ستونزو سره مخامخ کېږي. زموږ وړاندیز دا دی چې د چاپېریال په اړه نورې پوهې ته اړتیا شته. ډونران (مرسته کوونکي )او د پرمختیایي پروژو کارکوونکې باید خپلې ورتیاوی- یعنې خلک او مالي سرچینې- لوړې کړي څو وپوهېږي چې د دوی بنسټیزې پروسې څنګه بدلون موندی شي. په دې ډول په هغه ځای کې چې دوی کار کوي د چاپېریال ډینامیکي(ژوندي او فعاله) قوي درک او پېژندلای شي.

**موږ فکر کوو، چې پرمختیایي پروګرام دغه لاندې ټکي په پام کې نیسي:**

- د اغېزمن منطق د جوړولو لپاره د ټولنیزو قواعدو او میکانیزمونو په اړه پامیات.
- غیر تخنیکي اړخونه، چې د پرمختیایي پروګرامونو د پلې کولو لپاره اړین دي.

زموږ په اند لومړی ساحه د علمي کارمندانو کار دی او وروستۍ ساحه د عملي کارکوونکو په کړنو کې راځي. له دې امله، موږ په دې باور یو، چې د پرمختیایي پروګرامونو لپاره نوې وسیلې او کړنلارې هغه وخت راڅرګندیږي کله، چې څېړونکي او عملي کارکوونکي د پروګرام په لومړیو مرحلو کې له یو بل سره په بحثونو کې شامل شي. د دې مانا دا ده، چې څېړنه له داسې تخنیکي حل لارو څخه مخنیوی کوي، چې په ریښتینې ژوند کې یې د څیړنې امکان نه وي او دا یقیني کوي، چې عملي کارکوونکي د وروستیو علمي موندنو پر بنسټ کار وکړي.

د پرمختیایي کارونو په اړه لیکنو د دې اړتیا په اړه ډېر څه ویلي دي، چې له شته مؤسساتو سره کار وشي څو، له مخکې تعیین شویو لارښوونو او تیکنوکراتیکو کړنلارو څخه مخنیوی وشي کوم، چې د لویدیځو میعارونو سره سم د کار د اجرا سپارښتنې کوي. زموږ وړاندیز، چې په تیوري کې یې منل اسانه خو په عمل کې ګران دی، د دې په ځای دا دې، چې د عملي کارونو او شنني په منځ کې په لیکلې ډول ارزونې سره تبادله شي. په دې ډول، د څېړنې او عملي کار تر منځ " د نظرونو جاري تبادله " کولای شي د چاپېریال لپاره لارښوونې رامنځ ته کړي (اندروز او نور ۲۰۱۲). دغه لیکنه په حقیقت کې د پرمختیایي کارونو د کړنو په اړه بحث منعکسوي لکه د پرمختیایي کارونو د کار مختلفې کړنلارې. له شرایطو سره سم مدیریت او سیاسي تفکر او کار (ګرین ۲۰۱۲ ؛ لارنینګ لیب د زده کړې لابراتیوار ۲۰۱۸). دغه کړنې د سازماني پروسو د بدلون لپاره نظریات او له چاپیریالي شواهدو او فعالینو څخه د ښې استفادې امکان برابروي. په هر حال، په افغانستان کې د قضیو څېړنه، چې موږ د خوندي معیشت د څېړنې د کنسورتیوم (SLRC) په مرسته تر سره کړې وړاندیز کوي، چې د څېړنې او عملي کارمندانو تر منځ همکاري په هغه کچه، چې باید وای نه ده[4] او ډېر څه کېدای شي، څو د دواړو خواوو تر منځ یو ډیالوګ تنظیم شي. لیکنه په دې موخه تر سره شوې، چې دغه ډیالوګ تقویه شي.

۴ یو دلیل ښایي دا وي،چې دهمکاریو لپاره فرصتونه کفایت نه کوي. د پوهانو، پالیسي جوړوونکو او د پرمختیایي پروګرامونو د عملي کار کوونکو تر منځ نورې اړیکې او کنفرانسونه هم دایریږي. په هر حال، حتی که د بل هدف لپاره هم وي، دغه حادثې په عموم ډول د همکاریو لپآره پوره فرصتونه برابروي، بلکې برخه وال یوازې له یو بل سره معلومات تبادله کوي.

## له افغانستان څخه زده شوي سبقونه

په اقتصادي ژوند او مارکيټونو باندې د ايس ار سي د قضيې څېړنې د سياسي ترينګلتياوو په اړه له څېړنو سره يو ځای ښکاره کوي، چې سياسي او اقتصادي راکړې ورکړې په افغانستان کې ډېرې سره اغښتلې دي او زورواکان په دواړو ساحو کې کليدي ونډه لري. که څه هم د افغانستان اقتصاد په ظاهره يو ازاد اقتصاد معلومېږي، خو ټولنيز قواعد سيالي او ګډون تر ډېره حده د هغو کسانو په ګټه محدودوي، چې په ځواک کې پاتې وي. له همدې امله موږ بايد لومړی هغو ځواکونو ته پام واړوو، چې په افغانستان ٥ کې پر سياست او بازارونو واکمن دي.

د نړيوالو همکارانو هڅې، چې داسې مؤسسات جوړ کړي، چې کولای شي د لويديځو ماډلونو پيروي وکړي په دې تمامې شولې، چې دغه مؤسسات د رسمي او غير رسمي جوړښتونو د يوه مصنوعي يووالي په دوه ګوني شکل کې راګير پاته دي. لکه څنګه، چې پريتچيت او اولګاک توضيح کوي (٢٠٠٢) "مؤسساتي تقليد "يا د ويبر نظرونو ته په مستقيم ډول د ګذر تګلاري- چې په پرمختيايي هېوادونو کې د تقليد له لياري عملي کېږي "يوه بنسټيزه ستونزه ده، چېرې چې حکومتونو د استعماري ميراث يا د تقليد له لياري د لويديځو مؤسساتو شکل اختيار کړی دی.

لکه څنګه، چې به موږ په دې ليکنه کې وروسته توضيح کړو، داسې هيوادونه لکه أفغانستان د ډونرانو(مرستندويانو ) لپاره ډېر ستونزمن ملکونه دي. د دې يو لامل دا دی، چې په دغو ځايونو کې رسمي او غير رسمي نهادونه (يا د هال وارډ او نورو (٢٠١٠) سره سم " په اداري لحاظ جدا شوی "او "ريښتيني حالت ") په يو بل کې تداخل کوي. په دې ليکنه کې به موږ د افغانستان د سياست او اقتصاد د چلن په توضيح باندې زور واچوو. دغه توضيح په عمومي شتمني کې د مختلفو ګروپونو د برخو له پېژندلو څخه لاس ته راغلې، چې د کار اساسي طريقې لري او دلته د "لوبې د قواعدو" په نوم اشاره ورته شوې (جيکسن ٢٠١٢؛ جيکسن او مينويا ٢٠١٢). لکه څنګه، چې يې جيکسن توضيح کوي (د محدود لاس رسي په سيستمونو کې په منابعو باندې د ښو د کنترول په اړه د ډاګلس نورت د اثارو پر بنسټ) مؤسسات يوازې په نوم شتون لري، خو په حقيقت کې شبکې او د دوي ترمنځ اړيکې منابعو ته پر لاس رسي حاکميت لري. په حقيقت کې د شتمنيو د توزيع سره يو تړلی سيستم د دغو قواعدو بنسټ جوړوي، يعنې " د لاسرسيو يوه شبکه " ده، چې زورمندانو او د منابعو خاوندانو ته فرصت برابروي، چې له هغو څخه ګټه پورته کړي او هغه د خپلو اړيکو په ګټه له سره بيا وويشي. د دغه ميکانيزم په ذريعه شته شبکې ژوندۍ ساتل کېږي او په مارکيټ يا ازاد بازار کې نوي فرصتونه شکل پيدا کوي.

په پايله کې دغه ميکانيزم بې وزله او هغه خلک متاثره کوي، چې بل امکان نلري بې له دې، چې د زورورو شبکو په څنډو کې د ژوندي پاتې کېدو هلې ځلې وکړي. د بېلګې په ډول، په افغانستان کې، چې چاپېريال له ډېر ګواښ څخه ډک دی، مارکيټونه کليوالي بې وزلې کورنۍ دې ته اړ باسي، چې د کم ګواښ کړنې غوره کړي او له دې أمله لږ عايدات ولري.

**لومړی بکس: د ثابتو عوايدو اقتصاد**

"د ثابتو عوايدو اقتصاد" اصطلاح د ګوډ هينډز په هغو توضيحاتو باندې متکي دی، چې د "جګړو اقتصاد" "ناقانونه اقتصادي کړنې" او د "مقاومت د اقتصاد" ډولونه تعريفوي (ګوډ هينډ ٢٠٠٥). دلته سياسي ځواکمن کسان له خپلو اړيکو ګټه پورته کوي، چې د بازار ګټې را جذب او بيا توزيع کړي څو خپلې شبکې په دې ډول فعالې او ژوندۍ وساتي،او د کمزورو اړيکو خاوندان له صحنې څخه ګوښه کړي. د ثابتو عوايدو دغه ډول اقتصادي کړنې د ننګرهار او کندهار په ولايتي مرکزونو کې په ښکاره لېدل کېږي. لکه څنګه، چې جيکسن راپور ورکوي (٢٠١٥) په سوېل کې د کندهار په ښار کې له ٢٠٠١ څخه وروسته د ګمرک عايدات د ښو او لوړپوړو د تقويې لپاره ډېر اړين وو، چې ځواک ته د رسېدو لپاره يې په مبارزه کې وکاروي. زموږ د معلوماتي سرچينو په وينا، په دې وخت کې د سرحدي پوليسو قومندان بريدمن عبدالرازق امنيتي پرسونل د دې لپاره په کار واچول، چې کندهار ته د موبايل تيليفونونو، برقي الاتو، موټرونو او د تيلو د وارداتو تنظيم تر کنټرول لاندې ونيسي. يوازې هغو سوداګرو ته، چې د هرې اونۍ په داوطلبي کې به انتخابېدل اجازه وه، چې د سپين بولدک د پولې له لارې له پاکستان څخه توکې وارد کړي. د سرحدي پوليسو غير رسمي ماليات په يوه اونۍ کې د ٨ لکه امريکايي ډالرو په شاوخوا کې راپور ورکړل شوی (مينويا او پين ٢٠١٥).

د قوتونو دغه څېړنه، چې په افغانستان کې په اقتصادي او سياسي مارکيټونو واکمن دي، د اقتصادي او سياسي تعامل يوه نمونه توضيح کوي، چې د افغانستان په کلتوري او ټولنيزو سيستمونو کې ژورې رېښې لري. د افغانستان دولت د داسې يوه بنسټ له مخې کار کوي، چې ښايي لويديځو ډونرانو (مالي مرسته کونکې) ته د منلو وړ نه وي، خو د ملاتړکوونکو او د دوي د پلويانو د پېچلو شکلونو له منځه وړل، چې په حقيقت کې سياسي، ټولنيز او اقتصادي چوکاټ تعيينوي، يوه اوږد او دوامدار ټولنيز بدلون ته اړتيا لري.

په داسې حال کې،چې څرګنده نه ده د ډونرانو (مالیي مرسته کونکې) له خوا رهبري شوي پرمختيايي کړنې تر کومه حده د بنسټيزو بدلونونو سبب ګرځي، خو دا خبره ښکاره ده، چې داسې يو بدلون به ډېر کلونه وغواړي. په اوس مهال کې، که نړيوال ډونران (مالي مسرته کونکې) او مرستندويه ادارې پريکړه کوي، چې په افغانستان کې اقتصادي پروګرامونه پلې کړي دوي به د دې حقيقت منلو ته اړ وي، چې له داسې يوه سيستم سره ښکېل دي، چې د دوي د خپلو سيستمونو په پرتله د مختلفو قواعدو له مخې فعاله دی. د افغانستان له اقتصاد (او سياست) سره ښکېلتيا د دې تقاضا کوي، چې د دې سيستم له شبکو او په ملي شتمني کې د مختلفو ډلو له غونډو سره سرو کار ولري (جيکسن ٢٠١٢).

دا پورتنۍ موندنه د عملي کارکوونکو لپاره يو جدي ګواښ جوړوي، چېرې، چې اقتصادي پرمختيايي کړنې د افغانستان د اقتصاد هغه اغېزې تقويه کوي، چې د مختلفو ډلو له غونډو څخه را پيدا کېږي، په دې ډول د دې امکان شته، چې د پرمختيايي همکارۍ له اساسي اصولو سره په ټکر کې ولوېږي. د بيلګې په ډول، د ٢٠٣٠ کال د دوامداره پرمختګ د اجندا د څېړنې لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان غړو هېوادونو په ژمنتيا سره يوازې په وروستيو وختونو کې څرګنده

٥ د " سياسِ راکړې ورکړې ځايونه" اصطلاح له دې اثر څخه اخيست شوې ده: ډی وال، اي. (٢٠١٥) د افريقا د شبه جزيرې واقعي سياست. پيسې، جګړې او د قدرت پر سر سوداګرې، کامبريج، سياسي خپرونه

کړې، چې پرمختیایي کړنې باید د ټولنې ټولو برخو ته ورسیږي او په لومړي سر کې باید هڅه وکړي هغه کسان ور څخه برخمن شي، چې ډېر وروسته پاتې دي ("هیڅ څوک پاتې نه شي " اجندا). د افغانستان د اقتصادي سیستم په دې وېشلې بڼه کې تقویه کول، داسې برېښي، چې معکوسې پایلې لري: که چېرې د اقتصادي پراختیا ګټې یوازې د ځواکمنو په منځ کې ووېشلې شي، پرمختیایي ګټې به مساوي ډول نه تقسیمیږي او ټول خلک له اقتصادي ودې څخه نه شي برخمن کېدای.

د پراختیایي همکاریو له عمومي اصولو سره په ټکر کې راتلل ځرګندوي، چې اقتصادي پراختیا په افغانستان کې باید په بېل ډول تر سره شي. دغه شرط البته له نړیوالو ډونرانو (مالي مرسته کوونکو) او پلي کوونکو ادارو څخه غواړي، چې د اقتصادي پرمختګ په اړه په خپلو تګلارو بیا غور وکړي. موږ به په وروستیو برخو کې وګورو د بیلګې په ډول، چې د کلیو د پراختیا په اړه د جوړونکو پروګرامونه او پالیسي ګانې نه دي بریالي شوی، چې د افغانستان د اقتصاد وېشلی ماهیت ومني او هغه په خپلو عملي پروګرامونو کې په پام کې ونیسي.

## موږ څه وموندل؟

شواهد څرګندوي، چې درې ستر لاملونه باید په پام کې ونیول شي:

1. **پرمختیایي کارمندان باید ومني، چې د افغانستان اقتصاد د بېلو قواعدو له مخې فعال دی.**

پالیسي جوړونکي او پروګرام پلانونکي ډېر کم په دې پوهیږي، چې د افغانستان اقتصاد خپل بېل قواعد او ډینامیک لري. په افغانستان کې ډېری اقتصادي پرمختیایي پروګرامونه د دې فرضیې پر بنسټ ولاړ دي، چې ازاد بازارونه د تبادلې لپاره یو بې پلوه اړخ لري او د رسمي قواعدو له لیارې یې شکل پیدا کړی وي، چې په ټولو ګډون کوونکو په برابر ډول د پلي کیدو وړ وي. په دې سیستم کې د اقتصادي فرصتونو د زیاتولو لپاره له معیاري اقتصادي پرمختیایي کړنلارو څخه کار اخیستل شوی دی.[٦] لاندې څو مختلف لاملونه یاد شوي، چې کېدای شي توضیح کړي ولې د افغانستان د توزیعي اقتصاد په اړه دومره محدوده پوهه شتون لري:

- افغانستان د توزیعي اقتصاد او د هغه د ملاتړ کوونکو پلویانو د جوړښتونو منل، بڼایي د ډونرانو(مالي مرسته کوونکو) هڅې او پانګه، چې د دولت جوړونې په برخه کې یې لګولې تر سیوري لاندې راوستې وي او هغه یې بې ارزښته ګڼلې وي.[٧]

- د یوه لرزانده شبکه ای سیستم له برخه والو سره د ښکېلتیا پایلو بڼایي نړیوالې مرستندویه ادارې دې ته اړ ایستلې وي، چې په داخل کې په تصدیق شویو بیانونو باور وکړي تر دې، چې پخپلو پروګرامونو کې داسې نوې پروسې شاملې کړي، چې د افغانانو لویه برخه راونغاړي.

- نړیوالې ټولنې داسې شننیزې کتګورې نه درلودې، چې په مټ یې د افغانستان توزیعي اقتصاد توضیح او بیا له هغه سره ښکېل شي او د دې کمبودي له امله یې پریکړه وکړه، چې هغه له پامه وغورځوي.

په پای کې، په دې کې شک نشته، چې د افغانستان د اقتصاد توضیح کولو په موخه د پرمختیایي ماهرینو په اختیار کې وسایلو د هویت او ټولنیزو نورمونو (غیر رسمي) لاملونه په پام کې نه و ساتلي. دغه لاملونه د اقتصادي فرصتونو په وړاندې محدودیتونه څرګندوي. له دې امله، د افغانستان د اقتصاد او د بازارونو د درک کولو لپاره نویو شننیزو کړنو ته اړتیا شته او د دې په پایله کې د پالیسي لپاره باید نوي عملي وسایل جوړ شي.

2. **د پرمختیایي فعالیتونو کارکوونکي باید درک کړي، چې څنګه افغاني بازارونه په عمل کې کار کوي څو د اقتصادي پرمختګ لپاره نوي کاري ماډلونه جوړ کړي.**

د هغو قواعدو په اړه، چې په افغانستان کې پر ازادو بازارونو واکمن دي ډېره لږه پوهه شته او حتی په لومړي سر کې د افغانستان د اقتصاد د وېشلې بڼې پېژندل او د هغې سره سم د اقتصادي پرمختیایي پروژو جوړول یوه ننګونه ده.

د افغانستان د اقتصادي سیستم د محدودیتونو او نیمګړتیاوو په اړه ډېر شننیز راپورونه شته. په دې راپورونو کې ځینې هغه شامل دي، چې د پانګونې په وضعیت او د پالیسي په کچه د سوداګرۍ د ارزونې او دغه راز د ازاد بازار او تشبث په کچه هغه شننې شاملې دي، چې د مشخصو ارزښتونو په کړۍ کې څرګندیږي. د دغو شننو پایلې ډېرې مهمې دي او باید په پام کې وساتل شي. په هر حال، دغه شننې د دې لپاره بسنه نه کوي، چې داسې یو پروګرام جوړ شي کوم، چې د ټولو خلکو د شمولیت او په خلکو د تمرکز موخې رانغاړي. د بیلګې په ډول، یو پروګرام، چې د سوداګرۍ په ارزونې بسنه کوي او پریکړه کوي، چې د ملکیت ثبتول او د لږه کیو پانګه او یا په بندرونو کې سوداګري تقویه کړي (د هر اړخیز تشبث تقویه) تر هغو بریالی نه برېښي تر څو، چې دغه طرحه د تشبث په وړاندې هغه محدودیتونه رفع نه کړي، چې د افغانستان د بازارونو په وېشلي ماهیت او په اړوندو ټولنیزو قواعدو کې ریښې لري.

پروګرامونو لکه د کرنې او کلیو د پراختیا هر اړخیزه اسانتیا (CARDF) پروګرام داسې یو ماډل اختیار کړی، چې د ارزښتونو یوه کړۍ پکې نغښتې او موخه یې دا وي، چې د لاربښوونې او اطلاعاتو چوپړتیاوې

---

٦ په دې مثالونو کې د ارزښتونو د کړۍ د بهتره کولو روشونه، د زده کړو د چاپېریال ښه کول یا مسلکي زده کړې او مهارتونه شاملیږي.

٧ لکه څنګه چې جیکسن ویلی دی، له ۲۰۱۰ څخه د حکومتولۍ په اړه پخوا د نړیوالو همکارانو هڅې په کابل متمرکزې وې او د ولایتونو هغو روشونو ته یې ادامه ورکړې چې له پخوانیو حکومتونو ورپاتې وو. په افغانستان کې د ملي او ځایي حکومتولۍ د جوړونې لپاره د نړیوالو هڅو لپاره وګورئ جیکسن، ای. (۲۰۱۲) د شبکو د دولت په څېر : په افغانستان کې ځایي حکومتولي، راپور ۱۲، لندن: ایس ایل آر سی)

وړاندې کړي او زیربنایي پروژې غښتلې کړي، څو په کلیو کې د عامو خلکو لپاره د کار زمینه ښه شي، عایدات یې زیات شي او د سوداګرې فرصتونه رامنځ ته شي. د نړیوال بانک سره سم (۲۰۱۴)، سي ای ار ډي ایف لاربښوونې او روزنې برابروي او د زیربنایي کارونو جوړول د یوې بریا په څېر کتګوري کوي. په دې ډول کریډیټ او اطلاعاتو ته د لاس رسي نشتوالی د داسې لاملونو په څېر پېژني، چې بزګران له تشبث کولو څخه منع کوي. په هر حال، د قضیې له څېړنې څخه څرګنده شوه، چې په ننګرهار او هرات کې د بزګرانو لپاره غیر رسمي کریډیټ په پراخه کچه شته، خو انحصاري عملونه، چې بازارونو ته لاس رسی تنظیموي، د هغو خلکو ګټې محدودوي، چې له ځورواکو سره اړیکې نه لري (مینویا او پین ۲۰۱۲؛ مینویا او نور ۲۰۱۴). دغه او نورې بېلګې لکه په افغانستان کې د کلیو د تشبث او پراختیا پروګرام (ای ار اي ډي پي)، ښیي، چې د ارزښتونو د کړۍ تګلارو هغو ټولنیزو مؤسساتو ته ډېره کمه پاملرنه کړې، چې د جګړو په چاپېریال کې د کمزورو برخه والو لپاره په ازاد بازار کې تبادله او ګواښ تنظیموي. نور اړخونه لکه د مارکیټ د تبادلې په تنظیمولو کې د ټولنیزو مؤسساتو نقش او جګړې د پالیسي په داسې اسنادو کې هم له پامه غورځېدلي لکه د نړیوال بانک له خوا د کرنیز سکتور بیا کتنه (ای ایس ار) (نړیوال بانک ۲۰۱۴). د دې بیا کتنې شننې په بل القوه تولیدي بدلونونو تکیه کوي لکه د کرنیزې سوداکرۍ د ارزښتنو په کړۍ کې د کمو ځمکو درلودونکو کسانو شاملول. دغه تګلاره فرضوي، چې لومړی په هغو ساحو باندې تمرکز کول، چې ښه کرنیز حاصلات ولري او د صادراتو لپاره مناسب وي، کولای شي، چې کرنیز محصولات زیات کړي او په کلیوالو سیمو کې غیر کرنیزو کړنو ته لاس رسی ولري او د ښارونو په لورې کډوالۍ وهڅوي او کاري فرصتونه زیات کړي.

د ای ایس ار "د لومړی انګېزې تګلاره" په حقیقت کې په هغو ساحو باندې متمرکز و، چې زیات امکانات یې درلودل او موخه یې دا وه، چې کمزورو خلکو ته یې ګټه ورسیږي. خو دغه تګلاره هغو شرایطو ته یې پام نه و کړی د کومو لاندې، چې په تیر مهال کې شنه انقلابونه را منځ ته شوي (د بیلګې په ډول، د کوچنیو ځمکو درلودونکو لپاره د دولت له خوا له جهاني سیالۍ څخه ساتنه او د ښاري غوښتنو زیاتوالی). په دې برسېره، د ای ایس ار تګلاره هېره کړې وه، چې قانوني، ناقانونه او د مرستو له لیاري تقویه شوي برخه وال ټول په پام کې ونیسي، چې د نن ورځې افغاني بازارونه جوړوي (مینویا او پین ۲۰۱۷؛ غیاسي او نور ۲۰۱۵).

د ټولنیزو مؤسساتو د طریقو شاملول ستونزمن، خو اړین کار دی، چې د بدلون په تیوري کې د افغانستان اقتصاد ته شکل ورکوي. له ساحې څخه څېړنو، چې یو څو استثناات لري ښوولې، چې د ډونرانو (مالي مرسته کوونکو) په پروګرامونو کې ډېر کم داسې شواهد لیدل کېږي، چې وښیي افغاني بازارونه په ریښتیني ډول څنګه تنظمیږي. په دې برسېره، شننیز مهارتونه، وړتیاوې او وسایل، چې د افغانستان د اقتصادي سیستم په "ریښتیني" بڼه باندې د پوهېدلو لپاره اړین دي په ډېرو پرمختیایي ادارو کې نشته. په دې پوهېدنه کې هغه ټولنیز نورمونه، هیلې او اړیکې شاملیږي، چې اقتصادي فرصتونو ته لاسرسی تنظیموي او دغه راز نیمګړتیاوې په ګوته کوي لکه تخنیکي مهارتونه یا د مراتبو سلسله.

## ۳. پرمختیایي کارکوونکی باید هغو معیاري اقتصادي پرمختیایي تګلارو ته لومړیتوب ورکړي، چې په ټولنیزو نورمونو، مسؤولیتونو او د باور په اړیکو کې نغښتي محدودیتونه له منځه وړي.

موږ د معیاري اقتصادي پرمختیایي تګلارو په پوره کولو کې کمه تجربه لرو او داسې وسایل او د وړاندې کولو طریقې نه لرو، چې موخه یې هغو ټولنیزو نورمونو، هیلو او اړیکو ته توجه کول وي، کوم، چې په واقعي ډول په افغانستان کې اقتصادي فرصتونه تعینوي. د دې مانا دا ده، چې حتی که موږ د قواعدو (غیر رسمي) پوهه هم ولرو، چې د افغانستان په بازار واکمن دي، بیا به هم له ستونزو سره مخامخ کېږو، که وغواړو، چې د اقتصادي پرمختیایي پروګرامونو په طرحه کې له دې پوهې څخه ګټه واخلو.

په ښار کې د کار د مارکیټ یوې څېړنې، چې په کابل کې یې د خیاطي سکټور ته د ځوانو ښځو او نارینه وو په لاسرسي متمرکزه وه، وښودله، چې د جندر، قومیت او ټولنیزو اړیکو رول د کاري فرصتونو لپاره د سیالي په پروسه کې په ګډون یا له هغې څخه په ایستلو کې رول لري. که څه هم، ښځې او نارینه، چې مرکې ورسره شوې دي کارونو ته د لاسرسي او د هغو د ساتنې په لار کې له مختلفو خنډونو سره مخامخ شوي دي، څېړنې ښکاره کړې، چې نابرابري نه یوازې یو جنسیتي اړخ لري، بلکې "د نسب ټاکنې اړیکې" او په معمول ډول له یوه نارینه خپل سره وفاداري نابرابري تقویه کوي او د ښځو او نارینه وو، دواړو ازادي محدودوي (پین او مالیټ (۲۰۰۴-۲۰۱۴) که څه هم، د خیاطي پر سکټور دې څېړنې ښوولې ښځې، چې مارکیټ ته د داخلېدو په وخت کې د قومي مشر ملاتړ تر شا نلري، کېدای شو له تاوتریخوالي او رټلو سره مخ شي، خو د جندر مساله د نورو مسالو تر څنګ یو اړخ جوړوي (د بیلګې په ډول، طبقه، ټولنیز موقف)، چې د هویت په جوړښت کې رول لري (مالیت او پین ۲۰۱۸ (راتلونکی). لکه څنګه، چې د زعفرانو د قضیې مطالعې په هرات کې ښوولې، یوازې هغو ښځو کولای شوای په میراث کې ځمکې ولري، چې د ځورواکو او شتمنو کورنیو څخه وې، په داسې حال کې، چې د هرات په کلیوالي سیمو کې د زعفرانو مارکیټ یوازینی فرصت و، چې د اکثریت ښځو لپاره یې د کمې بیې کار د حاصلاتو په موسم کې برابراوه (مینویا او پین ۲۰۱۲).

دې بېلګو ته په کتو سره، عملي کارکوونکي باید له خپل ځان څخه وپوښتي، څنګه داسې پروګرامونه طرح او پلې کړي، چې د اقتصادي فرصتونو په وړاندې په هویت کې نغښتي خنډونه په پام کې وساتي او د هغوي د رفع کولو لارې وسنجوي (بېلګې یې قومیت، جندر یا اقتصادي موقف دی). دغه پوښتنه پېچلې ماهیت لري او کېدای شي څو مختلف ځوابونه ولري. د علمي ځوابونو پیدا کول ښایي وخت او موخه وغواړي. سره د دې، ډېری ډونران (مالي مرسته کوونکې) او پلې کوونکي ادارې له دې مسالو سره له مخامخ کېدو ډډه کوي. په هر حال، د ټولنیزو مؤسساتو، چې د افغانستان د اقتصاد په جوړښت کې رول لري، له پامه غورځول په پروګرامونو او پالیسیو اثر غورځوي. لکه څنګه، چې موږ ولیدل، دغه کار له اقتصادي فرصتونو څخه د بې برخې کولو اوسنې تعامل تقویه کوي. سیاسي او تخنیکي محدودیتونو ته په کتو سره، چې د مالي مرسته کوونکو د ادارو بنسټیز کلتور یې وړاندې کوي. موږ باید د دې پالیسي پایلې په پام کې وساتو.

## څه شی چې پرمختیایي ادارې یې باید په افغانستان کې په ښېل ډول اجرا کړي:

په تېرو ۱۵ کلونو کې نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د ادارو د جوړونې په کارونو کې یوه زیاته اندازه سرچینې په کار واچولې، خو لکه څنګه، چې موږ مخکې وویل د دولت او اقتصاد چلند د شخصي شبکو په لاس کې دی. د دې مانا دا ده، چې مؤسسات په شخصي ګټو متکي دي تر دې، چې د خپلواکو ادارو په حیث کړنې وکړي.

د توکو بازارونو ته که وګورو، دغه حقیقت په روښانه ډول توضیح کېږي. تر هر څه د مخه موږ ګورو، چې تولید، پرمختګ او سوداګري د پراخو او محدودو شبکو په ذریعه، چې غیر رسمي کریډېټ لري تر سره کېږي او د افغانستان او پاکستان تر منځ د پولو په دواړو خواوو کې جریان لري. دغه جریان د شخصي اړیکو او د اشخاصو تر منځ د باور پر بنسټ صورت نیسي. د شبکو لوجیستیکي وړتیا، چې په ختیځ افغانستان کې د مېوو او سبزي جاتو سوداګري په کنترول کې لري او له جلال اباد څخه تر افغانستان پورې غځېدلې دغه ریښتیا توضیح کوي. د ممتازې پرګنې یوې وړې ډلې له پخواني والي (ګل اغا شیرزی) سره اړیکو ته د یوه کارتل شکل ورکړ، چې د شرکتونو د اتحاد په بڼه کې قیمتونه انحصار کړي. دغه سوداګریزه نخبه(لویه، ښه) ډله بریالۍ شوه، چې د پیازو مارکیټ په انحصار کې ونیسي، قیمتونه یې تعیین کړي او په دې ډول د هغو حجم وټاکي او وړو سوداګرو ته د کریډېټ اندازه محدوده کړي، څو دوی مارکیټ ته له داخلېدو څخه منع کړي. د نخبه سوداګرو دغه وړه شبکه همدارنګه د خپلو اړیکو په ذریعه د افغانستان د سوداګرۍ او د صنایعو له اطاق څخه ګټه پورته کوي، چې له سرحدي پولیسو سره جوړ جاړی وکړي تر څو ګمرکي مالیات انحصار کړي او په کمه بیه کراچۍ ته ورسیږي. په عین وخت کې د ولسوالۍ په کچه د سوداګرو لپاره مارکیټونو ته د لاس رسي امکان نشته او د دغو سوداګرو لپاره ډېره ګرانه ده، چې ښې ګټې تر لاسه کړي (مینویا او نور ۲۰۱۴).

> **دویم بکس: په افغانستان کې ازاد بازارونه/مارکیټونه:**
>
> عمومي کټګورۍ، چې د مارکیټونو د توزیع لپاره کارول کېږي، په افغانستان کې د پلې کیدو وړ نه دي. عمده خرڅوونکي او پرچون خرڅوونکي یوازې نومونه دي،نومونه نه توضیح کوي، دوی څه کوي. په هرات کې د زعفرانو په مارکیټ کې د ښار سوداګر د ځمکو د لاس ته راوړلو او اجاره کولو، د کارګرانو د استخدام، مرحله او صادرولو له لارې په تولید کې ښکېل دي. همدارنګه، د زعفرانو کروندګر، چې د کلي لوړاو غټ غړي هم دي، کروندګر استخدام کړي، کریډېټ یې برابر کړی او زعفران بهر ته استوي (مینویا او پین ۲۰۱۲). دغه بېلګه په ښکاره څرګندوي، چې واک یوه کټګوري ده، چې د افغاني شبکو او له دوی سره په سیاسي معاملو کې باید په پام کې وساتل شي. سنتي قواعدو ته په کتو سره، چې د افغانستان د اقتصاد په جوړښت کې رول لري، له دغو قواعدو څخه سرغړونه یو ښه بدیل نه دی. په دې برسېره، دغه قواعد په ډېرو مختلفو کچو کې رول لري: څومره، چې د ځواک دایره پراخه وي په همغه اندازه برخه وال له خپلو کورنیو او قومي اړیکو څخه را جلا کیږي.

په اقتصادي راکړې ورکړې کې د حکومتولۍ دغه بېلګه ښیي، چې د افغانستان د اتباعو او دولت تر منځ د حساب ورکونې اړیکه په افغانستان کې د پلې کیدو وړ نه ده. په هر حال، نړیوالو ادارو هڅه کړې او په بې آټکله ډول یې د ادارو په جوړونه کې د هغه معروف چوکاټ پیروي کړې ده، چې د وېبر د ماډل په پیروي کولو سره د دیموکراسۍ او پرمختګ امکانات ویني. سره د دې، په یوه ګواښین چاپېریال کې، چې د عمومي باور کچه ډېره ټیټه وي، په شخصي ډول په نورو باندې باور کول د اقتصادي ژوند د چلند لپاره ډېر اړین وي، په داسې چاپېریال کې پانګه او منابع د شخصي ګټو په لور سوق کېږي. په داسې شرایطو کې د مؤسساتو رول بې له دې، چې د شخصي موخو د لاس ته راوړلو یوه وسیله وي بل په څه شي کې دی؟ موږ پوهیږو، هغه دولت، چې د نړیوالې مرستې له لیاري جوړ شوی وي، یو داسې اقتصادي چاپېریال تقویه کړی دی، چېرې، چې د ودې په وړاندې سیاسي خنډونه لا اوس هم په خپل قوت پاتې دي: داړه ماري، ګټه لټوونکی چلند او په عمومي لازمي توکو کې محدوده پانګونه (ویلیمز او نور ۲۰۰۹).

په داسې حال کې، چې د افغانستان بودیجه تر ډېره برېده د مرستو په محدوده پانګه تکیه کوي، تمویلوونکې (مالی مرسته کوونکې) ادارې دې ته اړتیا لري، چې خپلې طرحې او عملي پروګرامونه بدل کړي. په دې برخه کې ښایي لومړی ګام دا وي، چې د افغانستان له مختلط (ګډ وډ) سیاسي نظام سره په اړیکه کې له هغو سره کار وکړي (بویګ او نور ۲۰۰۸). لکه په ډېرو نورو، په اصطلاح " ناکامو دولتونو " کې، په افغانستان کې دولت د نورو برخه والو تر څنګ یو هغه دی، چې له مشروعیت او ځواک څخه برخمن دی. قبیلوي مشران، جنګ سالاران او مذهبي ځواکمنان ټول ښایي رسمي دندې ولري. خو بیا هم د خپلو شخصي ګټو او د دوی د خپلوانو د ګټو په لټه کې دي. له دې امله، له اوسني مختلط نظام او له شخصي برخه والو سره کار کول، چې د ځواک او منابعو په وېش کې لاس لري یو شرط دی، چې پرمختیایي ادارې یې باید په پام کې وساتي.

د پرمختیایي ادارو په سازماني کلتور کې دغه ډول بدلون ښایي ډېرې پایلې ولري. موږ به په دوو راتلونکو برخو کې د دې په تخنیکي، سیاسي او اخلاقي پایلو په تفصیل سره خبرې وکړو او درېیمه برخه یو لړ وړاندیزونه لري، چې دوراني پروګرامونه باید له هغو سره ځان عیار کړي. دغه بدلونونه د دې لپاره اړین دي، چې د افغانستان په شرایطو کې د مختلفو شرایطو لاندې کار پیل کړي.



## کليدي ننګونې:

### ۱. پرمختيايي ادارې بايد له شخصي فعالينو او نهادونو سره کار وکړي

پورتنۍ موندنې ښيي، چې نړيوال پرمختيايي فعالين دې ته اړ دي، چې له شخصي فعالينو او نهادونو سره ښکېل شي[۸]، څو داسې يو اقتصادي پرمختګ رامنځ ته کړي، چې په معمول ډول يوه برياليتوب ګڼل کېږي. البته دغه کار د مختلفو دلايلو له مخې ستونزمن هم دی. له تخنيکي انده، له يوه مختلط او د شبکو په ذريعه له ټينګ شوي سيستم سره کار کول له ادارو څخه غواړي، چې د پلي کيدو په طريقو کې د تعديلاتو د راوستلو په اړه بايد يوه بحث پيل کړي. په دې بدلونونو کې د داسې مسالو په رابطه قانوني پوښتنې شاميلېږي لکه تر نړيوال قانون لاندې د حقونو ساتنه، دغه راز د باور ګواښ لکه په تدارکاتو پورې د تړلو مسالو تجربه ښيي، چې د تدارکاتو قانوني اړخونه او مسالې حل کول اسان کار نه دی. ډونران (مالي مرسته کوونکې) او پلي کوونکې ادارې نږدې تل عامه نهادونه دي، چې د ماليه ورکوونکو له پيسو سره کار کوي او په رښتيا د ملي او نړيوالو نورمونو پابند دي. موږ په کلکه د دې وړانديز کوو، چې دغه قواعد او مقررات بايد مراعات شي، خو دا هڅه کوو، چې په مناسب ډول و ارزول شي. اوسنيو قانوني شرايطو ته په کتو سره څه شی ممکن دي او څه شی نه دي. په دې ډول به موږ د دې توان ولرو څو دا معلومه کړو، چې ايا په ريښتينې ډول ممکن ده، چې له غير دولتي برخه والو سره کار وکړو او که نه.

بله ننګونه دا ده، چې وپېژنو څوک په ريښتيا کې د افغانستان په ټولنيزو اقتصادي شرايطو کې مشروعيت او صلاحيت لري. په تېره برخه کې، موږ وويل، چې پرمختيايي ادارې شننيز مهارتونه، وړتياوې او وسايل نلري، چې په ذريعه يې ټولنيز لاملونه او په هويت پورې تړلي عوامل وپېژني کوم، چې په افغانستان کې په ازاد بازار کې فرصتونو ته د دوي لاسرسی ټاکي. دغه نيمګړتياوې په هغه وخت کې هم څرګنديږي، کله چې د هغو کسانو د پېژندلو هڅه کوو څوک، چې د رسمي مسؤولو نهادونو له دايرې څخه بهر د افغانستان په ټولنيز اقتصادي سيستم باندې نفوذ لري. دغه راز، د ارزونې معياري وسايل، چې په اقتصادي پرمختيا کې ورڅخه کار اخيستل کېږي هم "کمزوري خواوې" لري، کله، چې د وسايلو د رول او د برخه والو د اجندا د پېژندلو خبره مطرح کېږي. له دې امله، موږ په ټينګه ددې وړانديز کوو، چې پرمختيايي ادارې بايد خپلو شننيزو توکو ته پراختيا ورکړي څو د ځواک جوړښتونه او سياست وپېژني، چې د افغانستان اقتصاد ته شکل ورکوي.

همدارنګه د يوې مباحثې لپاره اړتيا شته څو څرګنده شي چې په تخنيکي لحاظ د عمل په ډګر کې له شخصي برخه والو او نهادونو سره کار کول څه مانا لري. په داسې حال کې، چې موږ بايد د اقتصادي پرمختيايي معياري وسايلو څخه ها خوا وګورو، خو بديل تګلارې په لومړي سر کې څرګند نه وي. موږ وړانديز کوو، چې د پرمختيا له عمومي موخو څخه بايد ځوابونه استنتاج کړو. د دايمي

۸ له "شخصي برخه والو" او "شخصي نهادونو" څخه زموږ مطلب دلته هغه منظم رسمي ګروپونه دي، چې د عاه ګټو پر ځای شخصي ګټې ساتي. په داسې شرايطو کې چې په عموم ډول د باور کچه ټيټه وي، شخصي اړيکې د سياسي او اقتصادي ژوند د برياليتوب لپاره اړينې وي. (فوکوياما ۱۹۹۵ روپامينو کال او نور ۲۰۰۸).

پرمختیا موخو ته په کتو سره (اس ډي جی) ۸، زموږ باور دا دی، چې پرمختیایي اقتصادي پروګرام په عموم ډول هر اړخیزه دایمي اقتصادي وده په پام کې نیولې وي، هڅه کوي، چې په تولیدي چارو کې د ټولو لپاره مناسب کاري فرصتونه ولاړ کړي. لکه څنګه، چې مخکې وویل شول، وروستیو څېړنو ښوولې، چې دغه موخه یوازې د کاري فرصتونو د ولاړېدو او سوداګریزو کړنو په ذریعه لاس ته نه شي راتلی. د دې لپاره، چې د ټولو لپاره اقتصادي فرصتونه پیدا شي – یا لېږ تر لږه د ډېرو خلکو لپاره- دې ته هم اړتیا شته، چې سیاست او د ځواک پر بنسټ ولاړ محدودیتونه په پام کې وساتو، چې په افغانستان کې ټولنیز اقتصادي جوړښت ته شکل ورکوي او هغه تنظیموي. څرنګه، چې دغه محدودیتونه په لومړي سر کې سیاسي ماهیت لري، منطقي پایله دا راوځي، چې د اقتصادي پرمختګ پروګرامونه باید داسې کړنلارې اختیار کړي، چې له سیاسي اوضاع څخه خبر وي.

## ۲. سیاسي فعالیت: د پرمختیایي ادارو لپاره یوه اخلاقي معما

د پرمختیایي کارکوونکو لپاره سیاسي فعالیت کول د ځینو دلایلو له امله یوه لویه ننګونه ده. د دې لامل دا دی، چې په اقتصادي پرمختګ کې یو څو کړنلارې شته، چې په اساسي طرحه کې سیاسي ښکېلتیا په پام کې ساتي. [9]

په دې برسېره، موږ د دوي د نیمګړتیاوو او قوتونو په اړه کمه پوهه لرو. له دې امله موږ په ټینګار سره وړاندیز کوو، چې د هغه اقتصادي پرمختګ پر ډولونو باندې پانګونه وشي، چې ماهیت یې سیاسي وي. " د سیاسي تفکر او سیاسي کار " (ټي ډبلیو پی) تګلاره د اقتصادي پرمختګ د پروګرام په اړه ښایي په دې لار کې لومړنی ګټور ګام وي. ښکاره ده، چې د نویو تګلارو د پلان لپاره په ساحه کې امتحاني کارونو ته اړتیا شته، چې د زده کړې لپاره د ارزونې او څارنې ځانګې ولري. بله لویه ننګونه د ماهرو کارمندانو موندل دي، چې وکولای شي د اقتصادي پرمختګ لپاره لازمه تخنیکي پوهه له ډیپلوماتیکي وړتیاوو سره، چې په سیاسي لحاظ د کار کولو ځیرکتیا ولري، سره یو ځای کړي. د حل یوه لار ښایي دا وي، چې په ټي ډبلیو پی برخه کې د اقتصادي پرمختګ ماهرین وروزي. برسېره پر دې، موږ سپارښتنه کوو، چې د پروګرام د کارکوونکو د جوړښت په اړه له سره غور وشي، لکه دا، چې اقتصادي او سیاسي کار پوهان په یوه ګروپ کې سره یو ځای کړای شي. [10]په پای کې،له تخنیکي ستونزو څخه پرته، له شخصي شبکو سره کار کول یوه ستونزمنه ټاکنه ده. زورواکان ښایي په ریښتینې ډول په پروسه کې ښکېل و اوسي، کېدای شي داسې کسان وي، چې په تاوتریخجنو کړنو شهرت ولري، چې د طالبانو د رژیم په دوران کې او یا له هغو وروسته یې شکمن رول درلودلای وي یا داسې کسان وي، چې په فساد کې د ښکېلتیا له وجې مشهور وي. له داسې زورواکانو سره کار کول ښایي د پرمختیایي کارکوونکو شهرت ته د افغانستان په دننه او بهر کې زیان ورسوي. د ډونرانو ادارې په معمول ډول ادعا کوي، چې دوي په ریښتینولي کار کوي، ځکه دوي " د مشروع دولتونو " سره د همکارانو په څېر مرسته کوي او د پرمختګ نه بېلېدونکو موخو(د بیلګې په ډول، اس ډی جی اس) د څیړنې رسالت لري نه دا، چې د حامیانو او پلویانو له سازمانونو سره کار وکړي. د پرمختیایي کارونو په اړه د ګواښ د کمولو تګلاره او د بې ضرره کارونو موخو په معمول ډول د بې پلوي له دې درک څخه راټوکېږي. له شخصي شبکو سره ښکېلتیا د پرمختیایي کار کوونکو رول په ګواښ کې اچوي، ځکه دوي ته په سیاسي لوبه کې د لوبغاړو رول ورکوي.

دغه راز، دغه لاره ښایي په هېواد کې دننه د پرېکړو نیوونکو لپاره په لوړه سیاسي بیه وغورځې. په مرستندویه هیوادونو کې دننه له سیاسي مخالفت او د مدني ټولنې نورمونو څخه خبرتیا ښایي د پرمختیایي پروګرامونو کارکوونکې دې ته وهڅوي، چې له شکمنو سابقې لرونکو سازمانونو سره کار کول تر پوښتنې لاندې راولي.

له شخصي شبکو سره د کار کولو یا نه کولو په اړه پرېکړه د ډونرانو لپاره ډېره اړینه مساله ده. داسې پرېکړه، چې په جنګ ځپلو هیوادونو کې یې کړنې سیاسي رنګ ولري او له بې پلوې څخه مخ واړوي، ښایي په دې تمام شي، چې " لاسونه یې په وینو سره شي" او دغه حالت به د ډونرانو د ریښتینوالی ادعا ته د عامه خلکو په باور زیان ورسوي. دغه راز، لکه څنګه، چې سلیم لیکي، د دوامداره جګړو په شرایطو کې "مرستندویان" له داسې یوه شی سره مخامخ کېږي، چې په عام ډول " بد شهرت" لري. په داسې حالت کې، که هر څومره پرمختیایي ادارې بې اړخه وي، خو ډېر ژر کېدای شي په اصطلاح بدنامې شي او په اخلاقي لحاظ هم جوړ جاړي ته تیاري شي ( سلیم ۱۹۹۷ : **۲۴۵**) د پرمختیایي ادارو لپاره پوښتنه دا ده، چې څوک کولای شي له شخصي شبکو سره کار وکړي او د ټولنې له ممتازې پرګنې سره څنګه چلند وکړي. څنګه موږ کولای شو داسې نخبه ګان(ښه، لوړ) د همکارې لپاره غوره کړو، چې د دوي له شبکو سره ګډ کار په ذریعه نورو خلکو ته هم ګټه ورسیږي، څه ډول به دا امکان پیدا شي، چې د خلکو ډېره برخه له پرمختیایي پروګرامونو څخه برخمن شي؟ له ساحې څخه شواهد په تکراري ډول ښیي، چې په یوه مختلط سیاسي نظام کې، چې په شخصي اړیکو ولاړوي، برخه وال هلته متعددې دندې او نقشونه لري. لکه څنګه، چې پین په افغانستان کې د کلیوالي شرایطو په څېړنه کې ښکاره کړې، د کلي په کچه بنسټونه همغه څو پوړیزه جوړښت لري او په کلیو کې واکمن دی، کوم، چې موږ په ازاد بازار کې مشاهده کړي و. د دودیزو واکمنو بنسټونو غړي اوس په اساني سره د ملي پیوستون د پروګرام لاندې د کلي د پرمختیایي ټولنو غړي ګرځېدلي دي. دغه کسان لکه څنګه، چې پین ویلې دي د بنسټونو یو جوړښت جوړوي (پین ۲۰۱۲). بیا هم د کلي نخبه ګان (ښه او لوړ) کولای شي یو پرمختیایي لاره غوره کړي او عامه توکو ته لاس رسی برابر کړي لکه تعلیم ته. د دې برعکس، کېدای شي دوي ډېر استثماري خصلت هم ولري (د بیلګې په ډول د دوي چلند له کلیوالي مزدورانو سره).

څرګنده شوې ده، چې په افغانستان کې د مجازاتو هغه سیستم، چې زورواکان مجبوروي له قانوني معیارونو او قواعدو سره مطابقت

۹ وګورئ " د پرمختګ د کارونو مختلف ډولونه" په لومړۍ برخه :ې ذکر شوې. یوه بله ښه تګلاره دا ده چې د ازاد بازار ګټه غریبو خلکو ته ورسیږي.

۱۰ دغه تګلاره موږ په بل ځای کې د جګړو د پوټینسیال او د بې غرضه ستراتیژې د ارزونې لپاره وړاندیز کړی و. (شرید او نور ۲۰۱۷).

وکړي لا تر اوسه په کار نه دی لویدلی. او یوه بله خلاصه پوښتنه دا ده، چې ایا نړیوالې ادارې به دا اراده ولري، چې له داسې یو مختلط رژیم سره کار وکړي. که چېرې پرمختیایي ادارې اړ وي له اوسنیو نخبه ګانو او برخه والو سره د دوي په پالیسیو او پروګرامونو کې برخه واخلي، په هغه صورت کې باید په نویو شننیزو وسایلو باندې پانګونه وشي څو داسې فیکتورونه پیدا کړي، چې د هغو په ذریعه د دغو نخبه ګانو چلند د وړاندوبینې وړ وي او په پایله کې و ښیي، چې څنګه د مذاکرو په پروسه کې له دوي سره ښکېل شي.

### ۳. پرمختیایي ادارې باید اوږد مهاله پروګرامونه جوړ کړي، خو دایمي بدلون ومني

کله، چې په افغانستان کې په اقتصادي رغونه او پرمختګ باندې تمرکز کوو، نو څو اړخونه باید په پام کې وساتو. د تمه شوې پایلو په هکله باید ډېر معتدل او د لومړۍ دورې په شننه ډېر ډاډمن واوسو. نورو لومړنیو شننو ته هم ضرورت شته، چېرې، چې بشر پېژندنه یو قوي رول لري، خو ایا د پروګرامونو بدلونونه کولای شي د عینې شرایطو له ډېرو ژورو بدلونونو سره توافق وکړي؟[۱۱] ایا دغه کار موږ د اوږد مهاله پلانونو د جوړولو پر مهال کولای شو؟ کېدای شي، چې په اقتصادي او سیاسي پروسو کې له "واقعي" برخه والو سره کار وکړو او کولای شو ځان ته اجازه ورکړو، چې د اقتصادي ژوند د سیاسي پروسو له دې بې نظمیو او کړاونو سره یو ځای کار وکړو؟

موږ په دې باور یو، چې ځینې ننګونې، چې په تېرو پوښتنو کې څرګندې شوې، کېدای شي حل شي کله، چې سازمانونه له هغو کړنلارو څخه بهر، چې دوي یې پېژني، نوې تجربې پیل کړي. یوه سپارښتنه دا ده، چې سازمانونه په عملي برخه کې باید ډېر انعطاف منونکي وي او په عین وخت کې اوږد مهاله موخې وپالي. په اوس مهال کې، ډېر پروګرامونه د منطقي چوکاټونو یا د مقایسوي پایلو د موډل پر بنسټ ولاړي وي. د پروګرام موخې او کړنې د پروګرام د پیل کېدو په وخت کې تعینیږي. د بدلون د هغو تیوریګانو پر بنسټ، چې د پرمختګ دغه ډول تګلارې تقویه کوي، کړنې له دې توقع سره څارلی کیږي، چې اخېر به موخې تر لاسه شي. په داسې حال کې، چې دغه طریقه د کار غلونکې ښکاري (او د بودیجې د پلانولو لپاره ګټور ده)، په بې ثباته ټولنو کې (له جنګ څخه وروسته) ټولنې واقعیت له پامه غورځوي. پورته موږ توضیح کړه، چې په اقتصادي پرمختګ کې عمومي تګلارې ډېر ځله په دې کې پاتې راځي، چې هغه قواعد وپېژني کوم چې، په افغانستان کې ازادو بازارونو ته لاسرسی ټاکي.

په هر حال، حتی د دغو عواملو یوه مناسبه کتنه هم ښایي بسنه ونکي ځکه، چې د پروګرام په هره مرحله کې کړنې په ډېر محدود ډول تعریف شوي دي. په افغانستان کې ټولنیز اقتصادي چاپېریال دومره تیز بدلیږي، چې د دې تګلارې بریالیتوب یې له شک سره مخ کړی. د اوږد مهاله موخو د پروګرام تر لارښوونې لاندې، کړنې باید د یوه دایمی بدلېدونکی چاپېریال سره سم په ثابت ډول عیار شي. په دې اړه د څارنې او ارزونې رول ډېر ارزښتناک دی. د پروګرام د اجرا او د هغه طرز ته له کتو څخه ها خوا څارنه او ارزونه باید په یوه داسې ګټوره وسیله بدل شي، چې د پروګرام په رهبري کولو او زده کولو کې ورڅخه ګټه واخیستل شي. د پروګرام د عمومي موخو په لاسته راوړلو کې د کړنو رول او ونډه باید په تکراري ډول د ارزونې او څارنې تابع وي. په دې ذریعه د چاپېریال له بدلونونو (په خاص ډول د شخصي شبکو ژر بدلېدونکی ګټې) د پروګرام توافق حاصلیږي. په دې بر سېره، څارنه او ارزونه باید د پروګرام په هره مرحله کې د یوې ښې طرح شوې او ژورې شننې په ذریعه تقویه شي. په داسې شرایطو کې د زده کړې وړتیا لوړیږي څو د اقتصادي پرمختګ د اوسنیو تګلارو او د افغانستان د واقعي اقتصادي شرایطو تر منځ تشه ډکه شي. (وګورئ پورتنۍ برخه). [۱۲]

موږ په دې پوهیږو، چې د یوه انعطاف منونکی پروګرام طرح کول په عملي ډګر کې له ډېرو ننګونو سره مخ وي. د لوژیستیکي توکو مساله ښایي، چې د انعطاف په وړاندې یو خنډ وي. اړینې پوښتنې ښایي د بودیجې په پلانولو، تدارکاتو او نورو قانوني اړخونو پورې اړه ولري. دغه مسالې په غّور ډول د ډونرانو د حکومتونو له حساب ورکونې سره تړلې دي، چې د خپلو موکلینو په وړاندې یې لري (د بیلګې په ډول مالیه ورکوونکی). موږ هڅه کوو، چې د دې ګواښونو د کمولو په اړه یوه جدي مباحثه پیل شي. یو هیله بښونکی لاره ښایي دا وي، چې د اړوندو برخه والو تر منځ په تمویلوونکو ملکونو کې د اطلاعاتو په تبادله باندې پانګونه وشي (د بیلګې په ډول د پارلمان، مدني ټولنې او رسنیو تر منځ). باید په حتمی ډول ښکاره شي، چې د فعالیتونو په کچه بې له انعطاف څخه د افغانستان په ټولنیز اقتصادي مختلط سیسټم کې د پرمختیایي پروژو بریالیتوب ناشونی دی.

## د پالیسي لپاره پایلې: د دوامداره جګړو په شرایطو کې د افغانستان له اقتصادي پرمختګ څخه زده شوي سبقونه

په دې اړه یوه اړینه پوښتنه دا ده، چې د اقتصادي پرمختیایي پروګرامونه څنګه کولای شي د ژورو ګواښونو، تاوتریخوالي او مختلطو رژیمونو په شرایطو کې له څېړنو څخه ګټه واخلي.

د افغانستان د ټولنیز اقتصاد او د هغه د توزیعي ماهیت پېژندنه ښایي له لویدیځ مالي مرسته کوونکو هیوادونو سره مرسته کړې وي، چې په دې هیواد کې د دوامدارې ودې په اړه په خپلو تګلارو له سره غور وکړي. په تېرو **۱۵** کلونو کې نړیوالو برخه والو "د ښه نیت په درلودلو سره زیان رسولی"، چې یوه د بحث وړ مساله ده،

---

۱۱ وګورئ جیکسن او مینویا (۲۰۱۲): "کمزوری" پخپله د لوبې د قواعدو یوه برخه ده. څنګه چې د خطر وړاندوبینه ګران کار دی، برخه وال د لنډې مودې پلان جوړوي، څو له خطر سره د مخامخ کېدو کچه ټیټه وساتي. کمزوری د ساختاري جنبې په څېر توضیح کوي چې سیستم ولې د ډېرو کلونو په موده کې په یوه ډول فعال و، سره د دې چې سیاسي اتحادیې له یوې تر بلې اونۍ بدلېدي.

۱۲ په دې اړه د بین المللي همکاری لپآره د آلمان ټولنه (جی آی زی) په وروستیو کې یوه پروسه پیل کړې چې د ټولنیز اقتصادي پرمختیایي پروګرامونو څخه په امکاناتو بحث وشي او تشخیص شي کوم چې د نهادونو د تقویې لپآره ضروري وي.

ځکه دوي ډېر ځله د افغاني شبکو او د دوي د زور واکو برخه والو استفاده جوبي تقويه کړې ده. له دې امله، د پاليسي او پروګرامونو لپاره نوي وسيلې بايد له موږ سره په دي تشخيص کې مرسته وکړي، چې څوک رسمي او څوک غير رسمي برخه وال دي کوم، چې د افغانستان اوسنيو بازارونو ته شکل ورکوي. دغه وسيلې بايد دغه راز له موږ سره مرسته وکړي څو وپوهيږو، چې له څو کلونو جګړو په مرستو باندې د بسني حالت او د دولتي کمزورتيا څخه وروسته دغه بازارونه څنګه فعاليت کوي. په هر حال، موږ له افغانستان څخه زده شويو سبقونو ته په کتو سره، کولای شو څو ټکې ياد کړو، چې د نړيوالو پرمختيايي ټولنو استازي يې بايد په پام کې وساتي، کله چې، د دوامداره جګړو په شرايطو کې د " اقتصادي پرمختګ کارونه "اجرا کوي. دغه ټکي بايد د څېړونکو او عملي کارکوونکو د راتلونکو ګډو کارونو لپاره د لارښود حيثيت ولري.

## د پاليسي لپاره سپارښتنې:

**ګډ کار کول، د لوبو په اصولو پوهه او په امکان لرونکي پروګرامونو د هغوي بدلول:**

اړينه خبره دا ده، چې د لوبو په اصولو بايد د ځان خبرولو لپاره پانګونه وشي. د دې کار لپاره شننيزې ورتياوې بايد لوړې شي، وسايل پيدا شي څو د معياري سوداګرۍ په لارکې د اقتصادي فرصتونو په وړاندې خنډونه يا تخنيکي خنډونه وپېژندل شي. د هويت په فکتورونو، ټولنيزو قواعدو او د شخصي بنستونو او شبکو په ځواک بايد په ځانګړې ډول ډېر زور واچول شي. لکه څنګه، چې د افغانستان بېلګې ښيي توزيعي اقتصاد د بنستونو په متېه فعال وي، چې په يوه مختلط رژيم کې شخصي ګټې په مخ وړي. په داسې شرايطو کې دولتي برخه وال له غير دولتي هغو سره ځواک، مشروعيت او ورتيا شريکوي، لکه مليشه ځواکونه او قبيلې. څرنګه، چې دولتي بنسټونه کمزوري وي، په داسې ساحو کې، چې دولتي حاکميت کمزورى وي، هلته اقتصاد په عموم ډول د حکومتولي د مختلطو شکلونو او غير رسمي قواعدو په ذريعه شکل پيدا کوي. موږ سپارښتنه کوو، چې څېړنيز کارونه او عملي کړنې بايد نژدې ښکيلتيا ولري څو دواړه ځواک او سياست ، قواعد او مقررات برملا شي، چې د پرمختيايي هڅو په چوکاټ کې شاملې اقتصادي مداخلې تشخيص شي. څېړنې بايد هغه ټولنيز قواعد او ميکانيزمونه وپېژني، چې اقتصاد ته شکل ورکوي. دغه پېژندنه يو بنسټ جوړوي، څو د بدلون ممکني تيوري ګانې تر بحث لاندې راشي، چې په اقتصادي پرمختګ اغيزه لرلې شي.

له دې ځايه، د پروګرام جوړونکي بايد د بحثونو پايلې په ريښتينې پرمختيايي پروژو واړوي. د څېړونکو او عملي کارکوونکو د معلوماتو د ضروري تبادلې د پلې کيدو په غرض موږ وړانديز کوو، چې د څو اړخيزه ډونرانو(مالي مرسته کوونکو ) تر منځ ډېر ځله غونډې وشي. د دغو غونډو دايره بايد د اوسنيو کنفرانسونو او ورکشاپونو له هغې څخه پراخه وي. په اوس مهال کې د څېړونکو او عملي کارکوونکو په منځ کې ګډ کار د دوه اړخيزو معلوماتو د تبادلې او غير عادي پېښو په بڼه کې تر سره کېږي. دغه ډول تبادلې يو قالب نلري، چې د پوهانو له خوا د ټولنيزو اقتصادي نظرونو پر بنسټ او د هغو تنګونو له مخې، چې مالي مرسته کوونکي او پلې کوونکي اداري ورسره مخامخ کېږي، ګډې حل لارې پيدا کړي. دغه کړنې د کاري قوي يا منظمو کاري ګروپونو شکل اختيارولاى شي، چې نړيوال سازمانونه مالي مرسته کوونکې اداري، پوهان او له مختلفو سياسي شرايطو څخه برخه وال په کې شاميليږي.

## د پاليسي لپاره سپارښتنې:

**د معياري اقتصادي پرمختيايي تګلارو بشپړول له هغو وسايلو سره، چې د اقتصادي فرصتونو په وړاندې خنډونه په پام کې نيسي او هغه په ساحه کې امتحان کوي:**

د هغو هڅو پر بنسټ، چې په مختلفو شرايطو کې د لوبې د اصولو د پېژندلو په موخه تر سره کېږي، موږ د څېړنې او عملي کار تر منځ د نورو همکاريو وړانديز کوو، څو د اقتصادي پرمختګ لپاره وسايل او سبقونه طرح شي، چې له ټولنيزو او غير رسمي قواعدو څخه راولاړې شوي ستونزې وڅيړي. د دغو ستونزو د ماهيت له وجې، بايد د هغو تګلارو په پراختيا باندې زور واچول شي، چې له سياسي وضعې څخه خبر ولري او موخه يې دا وي، چې په عملي ډګرونو کې د اقتصادي پرمختګ وسايلو ته پراختيا ورکړي(روزنه او د بزنيس اصلاحات). سره د دې، نوي تګلارې بايد ډېر تنګ وي او بايد د دوامداره تعليمي تجربو په ذريعه تقويه شي. د دې کار لپاره اړينه ده، چې پروګرامونه په ساحه کې د مختلفو عرصو او پخوانيو تيمونو له خوا وازمويل شي تر څو د سازمان معياري او د عادت له مخې ورځني کارونه ووېشل شي بې له دې چې لارښوونو ته پام وکړي. په دې ډول به د پريکړه نيوونکو لپاره دا امکان برابر شي، چې د راتلونکي لپاره پروګرامونه پلان کړي، له معمولي طريقې څخه بهر نوري مناسبې تجربې پيدا کړي او د اقتصادي پرمختګ لپاره اوږد مهاله موخې وټاکي، په عين وخت کې دوي کولای شي د لنډې مودې انعطاف منونکی کړنې تر سره کړي او له هغو ارقامو څخه ګټه پورته کړي، چې په مناسب ډول طرح شوي او د پروګرام په هره مرحله کې په تکراري ډول شننه شوي وي. د وخت په تېرېدو سره دغه پروسې ښايي په دې لړ کې د مناسبو عملي طريقو داسې يوه کچه توليد کړي چې پرمختيايي اداري له هغو څخه د چاپيريال شرايطو په اړه له پوهې سره يو ځای کار واخلي د دې پر ځای، چې له يوه هيواد څخه بل هغه ته لارښووني رانقل کړي.

## د پالیسي لپاره سپارښتنې:

**د نهادونو سره د دوي په کړنو کې ښکېل شي تر دې چې ظاهري هویت ته یې پام وکړئ:**

تر ټولو اړین سبق، چې د افغانستان له تجربو څخه موږ زده کړی هغه دا دی، چې په پرمختیایي کارونو کې د بریالیتوب لپاره له شخصي شبکو او برخه والو سره کار کول اړین دی. موږ یوازې په هغه صورت کې د لوبې په اصولو باندې پوهېدای شو، چې مالي مرسته کوونکي د ناکامو دولتونو د مختلطو سیاسي سیستمونو منلو ته تیار شي او وغواړي له غیر دولتي برخه والو سره له نږدې ګډ کار وکړي، څوک، چې په مشروعیت او ځواک کې برخه لري. په دې ډول به د اقتصادي پرمختګ نوي تګلارې په کار ولوېږي.

دې حقیقت ته په کتو سره، چې د داسې یوې تګلاې غوره کول ښایي په اوږد مهال کې د سازمان د شهرت، تشکیلاتو، کلتور او کارکوونکو لپاره منفي پایلې ولري، د پرمختیایي ادارو لپاره ګرانه ده، چې له شخصي شبکو او ګټو سره د ګډ کار کولو پرېکړه وکړي. دغه پایلې نه یوازې تخنیکي او ستراتیژیک اړخونه لري: په بېروکراتیکو ورځنیو طریقو کې د بدلون راوستل د دې تقاضا کوي چې نوي انعطاف منونکي او شننیز چوکاټونه غوره کړای شي. په تګلارو کې دغه ډول بدلون له هغه چلند سره په ټکر کې واقع کېږي، چې پروګرامونه د منل شویو طریقو په مطابق جوړوي. په دغو پروګرامونو کې هغه کسان د ستاینې وړ وي، چې له ګواښونو سره مخالفت لري او پرېکړه کوي، چې ترون وکړي. په دې برسېره، له غیر دولتي برخه والو سره د ګډ کار کولو مساله قانوني اړخ هم لري، لکه د تدارکاتو پروسې، د ماهرینو لپاره شننیز مهارتونه او د پرمختګ په اړه یوه سیاسي تګلار.

د ځایي نخبه ګانو له شخصي شبکو سره یو ځای کار کول په " بې طرفي" کې له " مشروع دولتونو" سره د کار کولو د پرېښودو مانا لري او ښایي له دې امله د ډونرانو )مالي مرسته کوونکو ( لپاره یوه اخلاقي معما وي او سیاسي ګواښونه ولري. دغه ننګونه په خپل ځای پاتې وي که وسایل شتون ولري، چې له مخې یې له نخبه ګانو څخه مناسب کسان وټاکل شي څوک، چې له پرمختګ سره لیوال وي او د دې ډاډ ورکولای شي، چې د مرستو له پانګې څخه غریبو خلکو ته هم ګټه ورسېږي. د دې موخې لپاره څېړونکي او عملي کارکوونکي اړتیا لري، چې په ګډه سره میتودونه جوړ کړي، شننیز کټګورۍ تر ازمایښت لاندې ونیسي او داسې فیکټورونه وکاروي، چې له دوی سره د نخبه ګانو د چلند په درکولو او د هغو په وړاندې په غبرګون ښودلو کې مرسته وکړي.

دغه څېړنه د جولیا مینویا او اورز شرید له خوا لیکل شوې. جولیا په توکم پېژندنه او ټولنیزو څېړنو کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې لپاره کار کوي. اورز د د نړیوالو همکاریو لپاره د آلمان د ادارې له اقتصادي پالیسي او د شخصي سکټور د پرمختګ له څانګې سره کار کوي. دغه څېړنه د لیکوالو شخصي نظریات منعکسوي.



معیاري پروګرامونه کار نه ورکوي: په ناکامو دولتونو کې اقتصادي پرمختګ

اخځلیکونه:

اندریو ایم پریتچیټ، ایل او ولکاک، ایم (۲۰۱۲)، د ستونزو د تکراري بدلون له لارې د وړتیا لوړول (پي ډي ای ای): خپرونه ۱۴۰ هارواړډ، کامبریج، ایم ای، امریکا متحده ایالات، د نړیوال پرمختګ مرکز.

بویګه، وی، ابراون، ای، سمینټس، کی، اونولان اي (۲۰۰۸) د مختلطو سیاسي نظامونو او نویو دولتونو په اړه : د کمزورتیا په شرایطو کې د دولت جوړونه: برلین، آلمان: د جګړو د حل لپاره څېړنیز مرکز.

ډي وال، ای (۲۰۱۵) د افریقا د شبه جزیرې واقعي سیاست پیسې، جګړې او د قدرت سوداګري، کامبریج سیاسي خپرونه. فوکویاما، ایف (۱۹۹۵) باور: ټولنیز هنر او هوسایېنه. نیویارک: ازادي خپرونې.

عیاشی آر، ژو، جي او هالګران، ایچ (۲۰۱۵) د افغانستان خصوصي سکټور: موقف او وړاندې تګ، سټوکهلم: د سټوکهلم د سولې نړیوال انستیټیوټ.

ګوډ هینډ: جې (۲۰۰۵) جګړې او سرحدونه: په افغانستان کې د کوکنارو اقتصاد: د کرنیز بدلون ژورنال ۵ (۲) ۱۹۱-۲۱۲۰

ګرین ډي (۲۰۱۲) له ستونزو سره کار کول، د حکومتولي د اصلاحاتو غوښتونکو او فعالینو لپاره نوې لارښوونې د پرمختیا په کارونو کې مختلفې تګلارې. وګورئ : مخ ۱۲

هالوارډ- دریمایر، ایم، کون- جوش، جي او پریتچیټ، ایل (۲۰۱۰) جوړ جاړی د قواعدو په پرتله. د پالیسي پلې، بې ثباتي او د شرکتونو کړکه؛ کاري پاڼه، کامبریج د اقتصادي څېړنو ملي دفتر.

جیکسن اي او مینویا، جې (۲۰۱۲) د لوبې قواعد: د لاسرسي د شبکو د تیوری په لور؛ خبري پاڼه ۱۹ لندن: د معیشت د تضمین شرکت.

جیکسن اي (۲۰۱۲) له شبکو څخه د جوړ شوی دولت څېره ؛ په افغانستان کې سیمه ایزه حکومتولي راپور ۱۲. لندن د معیشت د تضمین شرکت

د زده کړې لابراتوار (۲۰۱۸) تضیر منونکی مدیریت څه ته وایي؟ وګورئ مخ ۱۲

مالیت آر او پین ای. (۲۰۱۷) ازاد بازارونه، جګړې او بیا رغونه: د معیشت د تضمین د شرکت موندنې ؛ لندن : ویلټن پارک مینویا جې او پین ای. (۲۰۱۲) زعفران : د تولید ټولنیزې اړیکې، کاری پاڼه ۴۸، لندن : د معیشت د تضمین شرکت

مینویا جې او پین ای (۲۰۱۵) "۹۰٪ واقعي" د ثابتو عوایدو د اقتصاد پیدایښت او سقوط : د افغانستان کندهار کیسې کاري پاڼه ۳۸. لندن او کابل. اس ایل ار سی او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.

مینویا جی. ممتاز، ډبلیو و پین،. ای. (۲۰۱۴). پیازپه ټولنیز ژوند ې: په ننګرهار، افغانستان کې د پیازو د مارکیټ غیر رسمي قواعد کاری پاڼه ۲۲، لندن: د معیشت د تضمین شرکت.

پین. ای اومالیت آر (۲۰۱۴) جندر، ځوانان او د ښار د کار په بازار کې شرکت: په کابل، افغانستان کې د خیاطي د سیکټور له شواهدو څخه؛ کاري پاڼه ۱۸، لندن: د معیشت د تضمین شرکت.

پین، ای. په افغانستان کې د کلیوالی شرایطو له شننې څخه ګټه اخیستنه. میتودونه او پراخه کارونه یې، کاري پاڼه لندن: د معیشت د تضمین شرکت.

پریتچیټ. ایل او ولکاک، ایم (۲۰۰۲) حل لارې کله چې پخپله د حل لارې موندل یوه ستونزه وي. په پرمختیایي کارونو کې تنظیم او ترتیب کاري پآڼه ۱۰. واشنګټن ډي سي. د امریکا متحده ایالاتونه د نړیوال پرمختګ مرکز.

روچا مینوکل، اي، فریتخ، وی. او رانکره ایل. (۲۰۰۸)، په پرمختیایي هیوادونو کې مختلط رژیمونه او د دیموکراسي د پراختیا او قایمولو په وړاندې ننګونې د سویلې افریقا د نړیوالو چارو ژورنال، ۱۵(۱) ۴۰-۲۹

شرادي، یو. ندایبل، بی وایزیبش، سی. او رینبناخ، ایس (۲۰۱۷) ایا د دوامداره او ښکاره جګړو شرایطو کې د شخصي سیکټور د پرمختګ په اړه کومه قضیه شته؟ بن او ایشبورن: د نړیوالو همکاریو لپاره آلمان ټولنه (جی اي ای).

سلیم، ایچ (۱۹۹۷) په ښه طریقه کار کول: په سیاسي ستونزمنو شرایطو او جګړو کې مرستندویه اداري او مسؤولیت. مصیبتونه ۱۲ (۳) ۲۵۷-۲۴۴.

ویلیمز، جی، دتکن، ای ؛ لاندل میلز، پ او انسورت، ایس. (۲۰۰۹) سیاست او وده ؛ د پرمختګ د پالیسي بیا کتنه ۱۲۹ ایس ۱) ۲۹-۵۵.

نړیوال بانک (۲۰۱۴) افغانستان – د کرنیز سکټور بیا کتنه (ای ایس آر) : د اقتصادي ودې لپاره د خوړو د خوندیتوب، کارونو د جوړول او د کرنیز سیکټور فعاله کول. واشنګټن ډي سي، د امریکا متحده ایالتونه، نړیوال بانک.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره ) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه ) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نېټه | د خپروني نوم | لیکونکی ( مولف ) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړني موضوع | د خپروني ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاري پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه :په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنستیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | تولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنستیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړوني پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | جونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څېړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضايي بيا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرایي بيا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لينا ګانيش | | | جنسيت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغيزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی | ديتليف کمير | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بيا کتنه | اکسل کويتز | | | حکومتولی | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچيانو – بزګرانو شخړې | انتونيو جيو ستوزي | | | د طبيعی سرچينی مديريت | لنډيز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ريپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تګ کربنې: د هرات له درې کليو څخه بيلګې | دانيل هت، ادم پين او احسان الله غفوري | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معيشت تګ کربنې: د «وروسته پرمختيا» په وخت کې ژوند | جيوليا مينويا او ادم پين | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تګ ګربنې: د کندهار په ولايت کې چوپ تاوتريخوالی | دانيل هوټ، ادم پين او احسان الله غفوری | | | ټولنيزه ساتنه | کاری ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د توليد ټولنيزې اړيکې | جيوليا مينويا او ادم پين | | | د طبيعی سرچينو مديريت | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو ترياکو، کښت ته د پرمختيائې غبرګون را مينځ ته کول | ديويد منسفيلد، پاول فيشستين او OSDR | | | د طبيعی سرچينی مديريت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ آګست | په افغانستان کې د جنسيت په اړه د ځواب ورکوونکي بودجې جوړول: کار د پرمختګ په حال کې ده | نيلول برتش او سليمان هدايت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حاکميت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ آګست | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو سمون: ملکی خدمتونو د سکتور وندې او دندې | سيد حشمت الله هاشمی او ګير هارد لاوت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حکومتولی | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کليو د شرايطو د شننې کارول: ميتوودونه او پراخ دليلونه | ادم پين | | | پاينبت لرونکې معيشت | کاری ليکنه |

AREU

ځـــېړنې د ښه
افغانســـــتان
لپاره

د افغانستان د ځېړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی ( www.areu.org.af ) څخه ترلاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**د افغانستان د ځېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: +۹۳(۰)۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

بریښنالیک: publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-10-5

9 789936 641105